محمد داؤد مومند ۲۰۱۹/۰۹/۲۶

# ملـــی اکـــثـــریتـــی ژبــــــــه

## د پخوانی پادشاه اعلیحضرت محمد ظاهر شاه

# پـــه روښـــانـــه دوره کښې

دا لیکنه دوه کاله دمخه د محترم قیس کبیر د یوی ادعا په ارتباط لیکل شوی وه او ددی دپاره چی زما سیاسی موقف یوځل بیا د پخوانی پادشاه اعلیحضرت محمد ظاهر شاه نورالله و مرقده او دهغه د زعامت په تأیید څرګند شی, په ډیر ویاړ سره دا لیکنه یو ځل بیا د څه تزییداتو سره د آریانا په منلی ویب سایت کی نشر ته سپارم:

محترم انجنیر صاحب کبیر!

تاسی د خپلو سؤالاتو او مختصرو تذکراتو په ترځ کی فرمایلی دی:« زبان ملی پشتو، خصوصاً در عصر ظاهر شاه (اعلیحضرت محمد ظاهر شاه - مومند) چنان از دیدگاه افتاده بود که امروز زیادتر از پانزده فیصد خود پشتون ها قادر به تکلم آن زبان نیستند.»

څرنګه چی دا لیکنه د ملی اکثریتی ژبی په ارتباط ده، غوره بولم چی دی مرکی ته هم په همدی ژبه دوام ورکړم ترڅو زموږ خبری شوقی او اماتوری شکل ونلری.

محترم انجنیر صاحب

څرنګه چی ته خورا ځوان یی، او د پخوانی پادشاه په روښانه دوره کی د ماشومتوب او ممکن د خاپوړو په پړاو، او مهال کی وی، په قوی احتمال ستاسی ذهن د مغرضو کسانو او پادشاه د مخالفینو او مخصوصاً پرچمی او چپی عناصرو د منفی تبلیغاتو او د واقعیت نه لری ادعاګانو، پر بنسټ تخدیر او مغشوش شوی وی.

لمړی په کار خو دادی چی په کوم مهال تاسی د پښتو ژبی په اړوند خبری کوی، په همدی ژبه ولیکی او په همدی ژبه وغږیږی، په تأسف سره باید ووایم چی ما ستاسی یوه مقاله، مخصوصاً د یوه پښتون تباره وګړی په حیث نده

لوستی، داسی څرګندیږی چی ستاسی د ادعا مطابق تاسی هم د هماغه «پانزده فیصد» پښتون تباره وګړو له ډلی څخه یاست چی د خپلی پلرنی او آبایی ژبی په تکلم قادر نه یاست، زهی بدبختی.

په مقدماتی توګه باید عرض وکړم چی د ستر احمد شاه بابا څخه وروسته د هغه بیړا جانشین یعنی تیمور شاه د هیواد ملی اکثریتی ژبه د دربار څخه وویستله او دا ملی غمیزه د لوی درشل امیر شیرعلی خان تر دَوری پوری دوام وکړ.

د امیر شیرعلی خان په بختور عصر کی دربار پښتنی شو او د ژبی د ملی پیاوړتا او تعمیم او رسمی کولو د پاره ډیر بنیادی خدمت تر سره شو، د داکتر حسن کاکړ په حواله د امیر شیر علی خان په دوره کی دده یو متفکر پښتون وزیر، د عبدالقادر خان په نامه ددی ژبی د پیاوړتا او رسمی کولو په منظور په هماغه سویه هلی ځلی وکړی چی د اعلیحضرت غازی محمد نادر خان او اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په دوره کی د پشتنو ستر مشر او ملی مفکر محمد ګل بابا خپل ټول ژوند په دی لیاره کی وقف کړ.

لوی محمود طرزی ددی ژبی په ملی اهمیت او د ملی وحدت د ټینګولو په لیار کی ددی ژبی په مؤثریت د یو لوی ملی مفکر په توګه، مستشعر وه چنانچه: « به روایت سراج الاخبار، محمود طرزی در زمرهٔ نخستین کسانی بود که مسئلهٔ زبان را در بستر سیاست طرح کرد و نوشت که در مکتب های ما، مهمترین آموزش ها باید تحصیل زبان افغانی (پښتو) باشد.

از آموختن زبان های انګلیزی، اردو، ترکی، حتی فارسی تحصیل زبان افغانی را اهم و اقدم باید شمرد.

به فکر عاجزانه خود ما یګانه وظیفه انجمن عالی معارف باید اصلاح و ترقی و تعمیم زبان وطنی و ملتی افغانی باشد.»

واقعیت امر دادی چی پدی برخه د محمد ګل بابا، زیار، هلی ځلی، او د خپل ژوند وقف کول او د ستمیانو او سقو پرستانو اهانتونه او تخریبونه منل او ستره قربانی، کټ مټ د لوی محمود طرزی په ملی تفکر بنسټ لری. او د پښتو بابا، د اعلیحضرت غازی نادر خان او اعلیحضرت محمد ظاهر شاه څخه هغه غوښتل چی پدی برخه کی، د لوی محمود طرزی هیله او نصب العین وه.

د پښتو بابا، چی د هیواد د نجات په برخه کی د سقوی تبه کارانو په چقولو کی د غازی محمد نادر خان لوی مرستی وه او محمد نادر خان هغه ته د پنځم ورور خطاب ورکړی وه، د وطن د نجات نه وروسته د اعلیحضرت محمد نادر خان په ځواب کی چی اوس محمد ګل بابا، د دهغه یعنی لوی محمد نادر خان نه د څه خلعت توقع لری؟

په جواب کی وویل چی: ( زه له ستاسی نه د هیڅ نوع خلعت توقع نلرم، زما یواځنی هیله داده چی پشتو ژبه د ملی او اکثریت ژبی په حیث، خپل مقام او منزلت په ټولنه او هیواد کی تر لاسه کړی)

په کوزا پښتونخوا کی فخر افغان خان عبدالغفار خان هم ددی ژبی د علمی کیدو او تعلیمی کولو په منظور تاریخی خدمتونه تر سره کړل او انګریزانو په څرګنده ډول د پښتون نسل د تعلیم او تربیی او هغه هم، ددوی په ملی ژبه، مخالفت کاوه.

پاچا خانصاحب فرمایی چی د غازی امان الله سره په لمړی ملاقات کی ماته څرگنده شوه چی امان الله خان په پښتو ژبه نه پوهیده او ما ورته توصیه وکړه چی ته د افغانستان د پادشاه او ملی زعیم په توگه باید خپله ملی ژبه زده کړی، فخر افغان زیاتوی چی څه وخت امان الله د ایتالیی په هجرت روان وه په هماغه آخری ملاقات کی، امان الله خان ما سره په پښتو ژبه خبری وکړی. چی طبعاً دا کار د غازی امان الله خان په کلک ملی شعور دلالت کاوه.

څرنگه چی غازی امان الله د ملی وجدان او تفکر خاوند وه، د فخر افغان د توصیی په اهمیت پوه شو او د لوی احمد شاه بابا ژبه یی، چی د ملت د غوڅ اکثریت ژبه وه ده زده کړه.

د ویښ زلمیانو د ستر مشر محمد رسول خان پشتون د خولی روایت دی چی د غازی امان الله په دوره کی د پښتو ژبی د مختلفو لهجو په ارتباط چی کومه لهجه دی د یوی رسمی لهجی په توگه ومنل شی په کابل کی یوه غونډه جوړه شوه، پدی مجلس کی یوه احمق غړی د لوی کندهار د لهجی په ارتباط وویل چی: « لهجۀ پشتوی قندهار زنانه یی است.» غازی امان الله ددی خبری په اوریدو دومره عصبی شو چی خپله تمانچه یی د تهدید په توگه را وویسته، خو د اهل مجلس د عذر خواهی له امله بیرته آرام شو.

د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په دوره کی، ددی ژبی ملی اهمیت ته په درنه سترگه وکتل شو چنانکه د دهۀ دیموکراسی په مترقی اساسی قانون کی دواړه پښتو او دری ژبی د هیواد رسمی ژبی وبلل شوی، ولی په یوه ځانگړی ماده کی ځانله پښتو ژبه د افغانستان ملی ژبه وبلل شوه.

دلته ددی خبری تذکر ضروری بولم چی په هیواد کی ټولی ژبی د دری نه نیولی تر ازبکی، ترکمنی، بلوچی، هزارگی او اهل هنود د ژبو په شمول ټولی ملی ژبی دی او زموږ د ژبو د گلستان، ځانگړی گلان شمیرل کیږی، ولی څه مهال چی موږ پښتو ژبی ته ملی ژبه وایو، منظور دا چی دا د ټولنی، اکثریت ژبه ده ولی متأسفانه دا مطلب د شورای نظار، جمعیت او ایران پرستانو لکه سید مخدوم رهین، قوی کوشان، روان فرهادی، رسول رهین، او داسی نورو وگړو او ډلو په غوږونو منفی اثر لری.

محترم انجنیر صاحب کبیر!

دلته ستاسی د ادعا د، رد او تصحیح په منظور د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د هغه فرمان متن، محتویات کټ مټ، ستاسی خدمت ته وړاندی کوم چی د ملی اکثریتی ژبی د تقویی او انکشاف دپاره صادر شوه وه، دا فرمان په کال۱۳۱۵ کی د مارشال شاه ولی خان عنوانی لیکل شوی وه فرمان وایی:

« ج-ع-ج الف الف نشان عم محترم سردار شاه ولی خان غازی وکیل صدراعظم:

مسلم است که مسئلۀ زبان در وحدت ملی و حفظ آداب و شعایر یک ملت اثرات معتنابهی داشته و توجه به این مطلب از جمله ضروریات حیاتیـۀ یک مملکت به شمار میرود.

چون در مملکت عزیز ما از طرفی زبان فارسی مورد احتیاج بوده و از جانب دیگر به علت اینکه قسمت بزرگ ملت ما به لسان (افغانی) متکلم بوده، مأمورین علی الاکثر به علت ندانستن زبان پشتو دچار مشکلات می شوند، لذا برای رفع این نقیصه و تسهیل معاملات رسمی و اداری، اراده نموده ایم، هم چنانکه فارسی در داخل افغانستان زبان تدریس و کتابت است در ترویج و احیای لسان پشتو هم سعی به عمل آمده و از همه اولتر مأمورین دولت این زبان را

بیاموزند، شما به وزارت خانه ها و ولایات امر بدهید که مأمورین لشکری و کشوری مربوط خود را مکلف نمایند که در مدت سه سال لسان (افغانی) را آموخته و در محاوره و کتابت مورد استفاده قرار دهند.»

متأسفانه د سردار داود خان د کودتایی رژیم په اساسی قانون کی هغه ځانګړی ماده چی پشتو ژبه یی د یوی ملی ژبی په توګه معرفی کوله ددی ژبی د دشمنانو لکه سید مخدوم رهین او داسی نورو ملی ضد عناصرو لخوا محذوف شوه.

شاغلی انجنیر صاحب کبیر

د پادشاه په دوره کی پښتو تولنه جوړه شوه، په همدی دوره کی د محمد ګل بابا، د سیاسی چتر د نفوذ لاندی، د پښتو ژبی او ادب ستوری لکه علامه حبیبی، استاد الفت، استاد بینوا، استاد خادم، استاد رشتین، علامه رشاد او نور ګڼ شمیر ادیبان او پوهان د پښتو ژبی د علمی کولو دپاره وروزل شول. څرنګه استاد رشتین په یوه علمی کانفرانس کی وویل چی: « پښتو اوس یوه مکمله ژبه ده.»

د پادشاه په دوره کی علمی او عسکری مناصب او علمی مؤسساتو نومونه په پشتو ژبه واړول شول، همدا راز د دوکانونو او مغازو لوحی په ببنتو ژبه وکښل شوی.

د خوشحال بابا او رحمن بابا لیسی په مرکز کی پرانستل شوی چی تدریس یی په پشتو ژبه کیده.

همدا راز د کابل د ښار واټونه، ناحیی، او ډیر دولتی او انفرادی مؤسسات په پښتنی ژبه ونمول شول.

د پښتنی نارینه او ښځینه نومونو لکه توریالی، بریالی، جنګیالی، ننګی، زړګی، پلوشه، وږمه، خاتول، مرغلی، شینکی او داسی نورو، حتی په دری ژبو کورنیو په سطح کی کلک رواج وموند.

د پادشاه په دوره کی څرنګه چی وویل شول ددی ژبی د انکشاف او پرمختګ دپاره په تولو ابعادو کی زمینه برابره شوه، ولی د پښتنو د عالی رتبه مامورینو، لکه صدراعظمانو، ,وزیرانو، والیانو، رییسانو او داسی نورو غړو، وظیفه وه چی خپل ملی مسؤولیت ته پدی برخه کی متوجه اوسی او پدی ژبه، مرکه وکړی او د دفتر او دیوان ژبه یی وګرزوی.

پادشاه او سردار داود خان دواړود پښتو ژبی سره علاقه مندی درلوده خو متأسفانه د هیواد د مشرانو په توګه په خپله آبایی ژبه نپوهیدل او پدی برخه کی ګونګیان وه.

یو ځل د افغانستان پادشاه اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په عجز سره محمد ګل بابا ته وویل: « وزیر صاحب من پښتو می فهمم اما ګپ زده نمی توانم.»

محمد ګل بابا په ځواب کی ورته وویل: « زه هم په فارسی پوهیږم ولی خبری پری نشم کولای.»

بابا د میرغلام محمد غبار په ځواب کی چی ګوندی، بابا د فارسی ژبی سره تعصب درلود، ویلی وه چی زه حاضر یم د غبار سره د فارسی ژبی په ګرامر او صرف او نحو کی امتحان ورکړم، ولی غبار دی راشی او یو پاراګراف دی د پښتو په ژبه ولیکی.

محمد گل بابا د «سیند» په نامه چی د پښتو ژبی کوم قاموس لیکلی وه د هغی توضیحات او تعالیق ټول په دری ژبه کښل شوی وه در حالیکه متعصب میر غلام محمد غبار که څه هم څه موده په فراه او پښتنی سیمو کی تیر کړی وه په پښتو ژبه کی کاملاً بیسواده وه.

آیا دا د تعجب خبره نده چی داکتر اقبال نه ځانله د خوشحال بابا به تفکراتو با خبر انسان وه بلکه د خوشحال بابا له افکارو څخه ده الهام اخستی دی او د خوشحال بابا د یوه شاګرد په حیث پیژندل کیږی. علامه اقبال د خوشحال بابا په مورد کی فرمایی:

## آن حکـیـم ملـت افـغـانـیان     آن طـبـیـب ملـت درانـیان

## راز قومی دید و بیباکانه گفت     حرف حق با شوخی رنـدانه گفت

د پادشاه په دوره کښی په، کابل کی, په هرو پنځو کلونو کی د خوشحال بابا بین المللی سیمینارونه دایریدل، همدا راز د حضرت بایزید روښان په مورد کی به هم بین المللی سمینارونه دایریدل، ما شخصاً دی سمینارونو د استماع د پاره منظم ګډون کاوه، دی سمینارونو ته حتی ایرانی دانشمندان هم راتلل، د خوشحال بابا په سمینار کی یوه ایرانی دانشمند هیله څرګنده کړه: چی په راتلونکی کانفرانس کی به دی هڅه وکړی چی د افغانستان د ولس اکثریتی ژبه یعنی پښتو خبری وکړی.

د حضرت بایزید روښان په سمینار کی خلیل الله خلیلی هم ګډون کړی وه ولی متعصب، چپگراء میر غلام محمد غبار چی په طبقاتی مبارزه ایمان درلود، هیڅکله حاضر نشو چی زموږ د ملی تاریخ ددی لویو مفکرینو او سیاسی مشرانو او زعیمانو په تجلیل کی ګډون وکړی.

د منوچهری په نامه د ایران یو لیکوال د خوشحال بابا په مورد کی لیکی:

« که سعدی حافظ او فردوسی دری سره د تصوفی او حماسی پلوه یو ځای شی یو خوشحال خان ځینی جوړیږی- د سرلوڅ مراد زی تحقیق»

دا د خواشینی ځای دی چی برهمن زاده علامه اقبال او ایرانی منوچهری زموږ د تاریخ په مشرانو ویاړی ولی متعصب او چپگرا میر غلام محمد غبار حتی نه حاضریږی چی په په پورتنیو کانفرانسونو کی ګډون وکړی، مګر تعصب او چپگرایی، خکر لری او که لکی؟

د تأسف ځای دادی چی د داکتر حسن کاکړ په حواله، کابل کی پښتنی اقوامو لکه محمدزو، بارکزو، پوپلزو، ناصرو، او ځاځیو او داسی نورو قامونو د خپلو نیکونو ژبه هیره کړه، پداسی حال کی چی اهل هنود او افغانی یهودانو د ډیر کوچنی اقلیتونو په توګه، خپل کلتور او خپله ژبه هیره نکړه.

چی دا مثال زموږ د پښتنو قامونو، مخصوصاً محمد ز، بارکزو، او پوپلزو د خپلی نیکونو د ژبی سره بی تفاوتی، بی غوری او بی ایمانی څرګندوی.

دا د شرم ځای وه چی سردار محمد نعیم خان په پاکستان کی د مارشال ایوب خان سره په ملاقات کی « ایوب خان تعمدا د نعیم خان د تعجیز دپاره نعیم خان سره په پشتو ژبه خبری شروع کړی.» د هیواد په اکثریتی ژبه یعنی پښتو چی د لوی احمد شاه بابا ژبه ده، دخبرو نه عاجز پاتی شو.

پادشاه او سردار داود خان دواړو په فرانسوی ژبه پوهیدل ولی د پکتیا به سفر کی د پادشاه ترجمانی استاد خادم کوله او همد راز سردار داود خان د کندهار د ولس سره په ملاقات کی، ترجمان ته محتاج وه. زهی بدبختی.

د ملی زعیمانو د زعامت یو څرګند او مهم صفت هم دادی چی باید د وطن په دواړو لویو ژبو یعنی پښتو او دری وپوهیږی.

زما دوه زامن چی په غربی نړی کی ستر شول په دواړه و طنی لویو یعنی پښتو او دری ژبو پوهیږی او هغوی مجبور ندی چی موږ سره په انګریزی ژبه خبری وکړی.

محترم انجنیر صاحب

استاد خادم چی د پښتو ژبی د ادب یو ستوری وه وایی:

ای خادمه چی تبلیغ د نارینتوب کړی
څـه هم تا لـره پکار دی نارینتوب

د استاد خادم د وینا پر بنسټ، تاسی انجنیر صاحب چی په پخوانی پادشاه انتقاد کوی، اول سر، خپل ګریوان ته شکته کړی، چی تا په خپله د پښتو ژبی دپاره څومره خدمت کړی دی؟

تر نن ورځی پوری ما ستاسی مضمون خو څه کوی, حتی یو پاراګراف هم په پښتو ژبه, په افغان جرمن کی ندی لوستی.

تاسی که دومره د هیواد د اکثریتی ژبی یعنی پښتو سره علاقه مندی لری پکار دا وه چی لمړی مو د پښتو ژبی په لوی قاموس باندی کار شروع کړی وی، او یا حد اقل د قاموس کبیر تر څنګه مو د پښتو ژبی په قاموس هم کار شروع کړی وی، یو مبرم دلیل دا دی چی زموږ د هیواد دری ژبی وګړی ۹۹ فیصده د ایرانی قاموسونو نه استفاده کولی شی، متأسفانه د پښتو ژبی قاموس ته اشد ضرورت محسوس کیږی.

که څه هم، زه د داکتر حسن کاکړ د ځینو انحرافی نظریاتو سره لکه دا چی د غلزیو ولس، زیرنده په غیر مشروع بنه صورت نیولی (صدیق فرهنګ هم په خپل کتاب کی د حسن کاکړ په همدی انحرافی نظر اتکاء کړی ده) په کلکه مخالف یم ولی هغه یو لوی خدمت دا کړی چی خپل ټول آثار یی په پښتو ژبه لیکلی دی، ولی متأسفانه زموږ یو بارکزی مؤرخ چی خپل ټول کتابونه یی په دری ژبه لیکلی، حاضر نشو، چی حتی یو اثرهم په پښتو ژبه ولیکی. دی محترم د پنځه سوو نه زیاتی مقالی په دری ژبه لیکلی دی مګر متأسفانه د لوی احمد شاه بابا ژبی ته یی د «دختر همسایه خلموک است» په سترګه کتلی دی.

دا چی زموږ پښتانه بیراګان د هیواد د سکانو، هندوانو او یهودانو خورا کوچنی اقلیت په سلمه برخه د خپل ثقافت او کلتور سره مینه نلری نو د تاجک تبارانو نه به څه ګیله کوو.

پښتانه په پښتو او پښتونواله، پښتانه دی، هغه پښتنو چې خپله ژبه د لاسه ورکړی ده، په نژادی لحاظ ممکن پښتانه وبلل شی، ولی په کلتوری لحاظ هغوی تاجکان دی.

ددی مضمون په دی برخه کی خپله اخلاقی وظیفه بولم چې د دوه روشن ضمیره تاجک تباره شخصیتونو یعنی شاغلی استاد معروفی او شاغلی وطندوست نه د دوی د بی آلایشی همدردی څخه چې یی د پښتنو د ژبی سره لری مننه وکړم.

خدای دی موږ ټولو ته توفیق راکړی چې په خپل قضاوتونو کی د عدل او انصاف خوا ونیسو. په درناوی

**** **** ****

یادونه:

که چیری گران لوستونکی و غواړی چی د دی معززی لیکونکی مقالی هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

**ملی ژبه** د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په روښانه دوره کښی
D_momand_٥٤_mili_jeba_de_zahershah_badaora_ke.pdf